# آرګ پانه

شماره 77

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

د افغانستان اسلامي امارت، د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رياست، د عامه او ستراتيژيکو اړيکو معاونيت، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 ميلادي | د چاپ نېټه: صفر المظفر ۱۹، کال ۱۴۴۷ هجري قمري


## د افغانستان بين المللي بانک (AIB) رئيس سره د رياست الوزراء اداري مرستيال کتنه

د رياست الوزراء اداري مرستيال محترم مولوی عبدالسلام حنفي د افغانستان بين المللي بانک (AIB) رئيس او د هيواد ملي تاجر محترم الحاج محمد ابراهيم محب سره وکتل.
په دې کتنه کې لومړی محترم الحاج محمد ابراهيم محب خبرې وکړې او په هيواد کې د اقتصادي، سوداګرېزې او پانګونې د اوضاع او د افغانستان بين المللي بانک د کړنو په اړه يې معلومات وړاندې کړل...

۲

## رونق سرمایه‌گذاری منطقه‌ای با گسترش شبکه خط آهن افغانستان



وزارت فواید عامه اعلام کرده است که فراهم‌سازی تسهیلات بیشتر برای سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی، سبب شده کشورهای منطقه از جمله اوزبیکستان، ترکمنستان، قزاقستان، روسیه، امارات متحده عربی، چین و ایران برای سرمایه‌گذاری در پروژه‌های زیربنایی افغانستان ابراز علاقه کنند...

۵

## د ارشاد، حج او اوقافو وزارت: له حج پاتې څه باندې ۱۱۵ میلیونه افغانۍ حاجيانو ته ورکول کېږي

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت مسئولينو د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو په مرکز کې د يوه خبري کنفرانس پر مهال، په ۱۴۴۶ هـ ق کال کې د حج د لګښتونو او له هغو څخه د پاتې پيسو په اړه معلومات له رسنيو سره شريک کړل.
د دغه وزارت سرپرست، محترم شيخ الحديث سرمحقق دوکتور نور محمد ثاقب، په دې خبري کنفرانس کې وويل: د ارشاد، حج او اوقافو وزارت ژمن دی چې په ارشادي،...

۲

## دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با رئیس دفتر سازمان بین المللی مهاجرت (IOM)




۵

## عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله تعالی) د کندهار ولايت په مقام کې علماء کرامو او خطيبانو ته په جوړه شوې غونډه کې ګډون او وينا وکړه

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی د کندهار ولايت په مقام کې د کندهار ښار د پنځلسو حوزو د علماء کرامو يوه لويه غونډه کې ګډون او وينا وکړه.
په دې غونډه کې د کندهار والي، د کندهار مرستيال والي، د جنوب غرب حوزې د تميز رئيس، د مرکزي دارالافتاء عمومي رئيس، د جهادي مدارسو عمومي رئيس، د ديني خپرونو د کره کتنې رئيس، د کندهار د امربالمعروف رئيس او د کندهار د حج او اوقافو رئيس هم حضور درلود،
مجلس د قرآن کريم د څو مبارکو آيتونو په تلاوت پيل شو، ورپسې د حوزو په نمايندګۍ پنځو تنو علماء کرامو او خطيب صاحبانو ويناوې وکړې، اسلامي نظام يې د الله تعالی لوی نعمت او د علماوو لپاره يې د خلکو د اصلاح او هر قسمه فساد د له منځه وړلو ښه فرصت وباله...

۵



## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د تاتارستان جمهوريت د لومړي وزير له مرستيال سره وکتل

۲

## په ننګرهار کې د زر بستريز روغتون د کارونو بيا پيل - د ختيځ د روغتيا نوې هيله

۵

## ديدار رئيس عمومی دفتر مقام رياست الوزراء با پيشتازان کانکور سال ۱۴۰۴



۲

## توزيع ۲۰۰ هزار سیم‌کارت رایگان به عودت‌کنندگان افغان در مرز اسلام‌قلعه

٦

### ۲۴ اسد؛ پیروزی ایمان بر باطل

۲۴ اسد، روز پیروزی امارت اسلامی افغانستان، (بر متجاوزین و اشغالگران) نقطه‌ای روشن و تاریخی در مسیر استقلال، عزت و اقتدار ملت عزیز ماست. این روز مبارک (که در واقع فضل و نصرت خاص الهی بود) یادآور اراده‌ای پولادین و ایستادگی مردمانی است که با ایمان راسخ و همت بلند، توانستند با گذشتن از دشواری‌ها و چالش‌ها، مسیر تازه‌ای برای آینده کشورشان رقم بزنند.
پیروزی امارت اسلامی، تجلی اراده‌ی مستحکم ایمانی و عدالت‌جویانه مردم افغانستان است که خواستار حاکمیت قانون الهی، امنیت پایدار و عدالت اسلامی بودند. این روز به همه ما یادآوری می‌کند که تنها با اتحاد، ایمان و صبر می‌توانیم به آرمان‌های بزرگ خود دست یابیم و آینده‌ای روشن برای نسل‌های آینده بسازیم. باشد که این پیروزی مقدمه‌ای برای ایجاد جامعه‌ای بر پایه‌ی ارزش‌های اسلامی و مصالح علیای ملی باشد؛ جامعه‌ای که در آن امنیت، عدالت و رفاه برای همه مردم فراهم گردد و افغانستان عزیز، به جایگاه واقعی خود در منطقه و جهان دست یابد.

مولوی نعیم الحق حقانی
رئیس مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

سرمقاله

# له بحرانه تر باوره: د افغانستان د انرژۍ د خپلواکۍ نوې څپه

لیکنه: حشمت ناصري

په افغانستان کې تیاره یوازې د رڼا نشتوالی نه دی؛ دا هغه دروند سیوری دی چې د هیلو رڼا پکې ورو ورو خړېږي او د سبا د خوبونو رنګ پکې مړاوی کېږي. د کلونو راهیسې افغانان له پراخو او پرله‌پسې برېښنایي کړکېچونو سره لاس او ګرېوان دي؛ شپه د جنراتورونو تر سترې کوونکي شور لاندې ساه اخلي، او سهار د برېښنا د پرې کېدو د وېرې او اندېښنې په سیوري کې خپل کارونه او د ژوند مبارزه پیلوي. خو د انرژۍ په ډګر کې وروستي پرمختګونه داسې هیلې راژوندي کوي لکه د لمر وړانګې چې د وریځو ترشا ورو ورو راڅرګندېږي؛ هیلې، چې دا تیارې به ماتېږي او دا اندېښنې به پای ته رسېږي.

په کابل او لوګر کې د برېښنا د تولید پروژې په چټکۍ سره د تطبیق په حال کې دي او د سیمې اوسېدونکو ته یې د دوامدارې برېښنا لاسرسی زیات کړی دی. په هرات کې توربینونه د دې ولایت له تندو بادونو څخه انرژي اخلي، او د هېواد په جنوب کې نیمګړې بندونه بیا فعال شوي، څو هغه کورنۍ اوبه، چې پخوا له پولو هاخوا بهېدلې، اوس د انرژۍ د تولید لپاره په اغېزناکه توګه وکارول شي.

که څه هم دغه پروژې د پرمختګ په لومړیو پړاوونو کې دي، خو د افغانستان د انرژۍ د خپلواکۍ پر لور د تګ نوې هیلې راپاروي. که چېرې دغه طرحې د دقیق پلان، دوامدارې پانګونې او اغېزناک مدیریت په مټ پرمخ ولاړې شي، تمه ده چې د هېواد د اړتیاوو د پوره کولو ترڅنګ، د اقتصادي ودې او ټولنیز باور د پیاوړتیا لپاره هم ژور او بنسټیز بدلونونه رامنځته کړي.

روښانه ده چې دا مزل اسانه نه دی، خو دغه پروژې دا پیغام ورکوي چې افغانستان کولای شي په خپلو کورنیو سرچینو تکیه وکړي او داسې روښانه راتلونکی جوړ کړي، چې دغه تیارې اوږدې شپې د خلکو په ذهنونو کې د خاطرو په توګه پاتې شي.

دا مقاله د برېښنا د تولید او اړوندو پروژو د پلي کېدو په برخه کې د اسلامي امارت وروستي نوښتونه څېړي.

افغانستان له کلونو راهیسې د انرژۍ له ژور بحران سره لاس او ګرېوان دی. اوسمهال هېواد څه د پاسه ۷۰سلنه برېښنا له ګاونډیو هېوادونو واردوي؛ واردات چې هر کال د هېواد پر نازک اقتصاد میلیونونه ډالر بار اچوي. له دې سره، یوازې نږدې ۴۲سلنه هېوادوال د برېښنا ملي شبکې سره نښول شوي، او په ډېرو کلیو او ان په لویو ښارونو کې د برېښنا پرله‌پسې نشتون د خلکو د ورځني ژوند یوه نه بېلېدونکې برخه ګرځېدلې ده.

په وروستیو کلونو کې د انرژۍ تولید د افغانستان د مهمو پالیسیو په محور بدل شوی دی. اسلامي امارت هڅه کړې چې د شته او بالقوه فرصتونو په پېژندلو او د کورنیو او بهرنیو پانګونو په جلبولو سره د اغېزناکو پروژو د پلي کېدو زمینه برابره کړي.

د ۱۴۰۴ هجري لمریز کال په پیل کې اسلامي امارت له یو شمېر کورنیو او بهرنیو شرکتونو سره د شاوخوا ۱۹.۵۶ میلیارده افغانیو په ټولیز لګښت، د برېښنا تولید د پروژو قراردادونه لاسلیک کړل، چې په جوزجان کې د ۵۰ میګاواټه ګازي برېښنا، په بلخ کې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښنا، په لوګر کې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښنا، په ننګرهار کې د ۴۰ میګاواټه لمریزې برېښنا، په لغمان کې د ۱۰ میګاواټه لمریزې برېښنا او په هرات کې د ۴۳.۲ میګاواټه بادي او ۵ میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژې پکې شاملې دي.

د دغو پروژو پلي کېدل کولای شي د کورني تولید ظرفیت لوړ کړي، پر وارداتي برېښنا تکیه راکمه کړي او د اقتصادي پراختیا ترڅنګ خلکو ته د دوامدارې برېښنا د برابرولو زمینه برابره کړي.

د دې قراردادونو له لاسلیک سره د یو شمېر پروژو عملي بهیر هم پیل شوی دی. د بېلګې په توګه، د هرات د دوو پروژو او د ننګرهار، لغمان، بلخ، کابل او لوګر د برېښنا تولید پروژو عملي چارې رسماً شروع شوې دي. د دغو طرحو پیل د کورني برېښنا تولید د ظرفیت لوړولو په لور یو مهم ګام بلل کېږي او تمه ده چې د انرژۍ په برخه کې د لازیاتو پانګونو د جلب زمینه هم برابره کړي.

همدارنګه، د هلمند د کجکي بند دویم پړاو، چې د برېښنا تولید ظرفیت یې له ۵۱ میګاواټه څخه ۱۵۱ میګاواټه ته لوړ شوی، د اسلامي امارت تر مدیریت لاندې له نږدې یولس میاشتو وروسته ګټې اخیستنې ته سپارل شوی دی. د کمال‌خان، بخش‌اباد، شاه او عروس او پاشدان بندونه هم د پلي کېدو په بېلابېلو پړاوونو کې دي چې د هغوی په بشپړېدو سره به د هېواد د اوبو برېښنا تولید ظرفیت په بې ساري توګه لوړ شي.

د راپورونو له مخې، افغانستان شاوخوا ۳۲۳ زره میګاواټه د برېښنا تولید بالقوه ظرفیت لري؛ چې پکې نږدې ۲۲۲ زره میګاواټه لمریز، ۶۶ زره میګاواټه بادي، ۲۳ زره میګاواټه د اوبو، ۴ زره میګاواټه حرارتي، ۳.۵ زره میګاواټه جیوترمل، او ۴ زره میګاواټه د ډبرو سکرو، فوسیلي موادو او بیوماس له سرچینو څخه ترلاسه کېدونکې برېښنا شاملېږي.

د دوامدارې برېښنا د ترلاسه کولو په موخه، اسلامي امارت په یوه بې‌ساري اقدام کې د لس زره میګاواټه برېښنا د تولید لپاره د لس میلیارد ډالرو پانګونې هوکړه‌لیک لاسلیک کړی دی. دا تړون د افغانستان د اوبو او انرژۍ وزارت او د «عزیزي انرژي» خصوصي شرکت ترمنځ د حکومت د لوړپوړو چارواکو په حضور کې ترسره شوی دی. د دې هوکړې له مخې، «عزیزي انرژي» به د ګاز، ډبرو سکرو، اوبو، باد او لمریز سرچینو څخه لس زره میګاواټه برېښنا تولیدوي. د دې پروژې په عملي کېدو سره به افغانستان په راتلونکو اوو تر لسو کلونو کې نه یوازې په برېښنا کې بشپړ خپلواک شي، بلکې د نورو هېوادونو لپاره د برېښنا د صادراتو وړتیا به هم ترلاسه کړي.

له لس زره میګاواټه تولیدېدونکې برېښنا څخه به څلور زره میګاواټه د خلکو د استفادې او شپږ زره میګاواټه د صنعتي فابریکو لپاره ځانګړې شي. د دې طرحې په پلي کېدو سره به زرګونه نوې فابریکې جوړې شي، د میلیونونو افغانانو لپاره به د کار زمینه برابره شي او د هېواد اقتصاد به په پام وړ ډول وده وکړي.

د انرژۍ پراختیا کولای شي ژور اقتصادي او ټولنیز اغېز ولري. له اقتصادي اړخه، دا به پر وارداتو تکیه کمه کړي، مالي لګښتونه به راکم کړي او د نوو پانګونو د جذب لپاره به لاره هواره کړي. له ټولنیز اړخه، د برېښنا پراختیا د کلیو او کوچنیو ښارونو ژوند ښه کوي، ښوونځي د برقي وسایلو د کارولو توان پیدا کوي، روغتیایي مرکزونه اغېزمن فعالیت کوي او چاپېریال د ککړو سونګېزو موادو له کمېدو سره پاکېږي.

د انرژۍ د پروژو پراختیا کولای شي په افغانستان کې پراخ اقتصادي او ټولنیز مثبت اغېز ولري. له اقتصادي اړخه، دا به د افغانستان پر وارداتي برېښنا تکیه په بې‌ساري توګه راټیټه کړي او د درنو مالي لګښتونو مخه ونیسي. سربېره پر دې، د دغو پروژو عملي کېدل به د زیاتو پانګونو د جذب زمینه برابره کړي او دا بهیر به د هېواد اقتصاد راژوندی کړي؛ ځکه چې د یو دوامدار انرژۍ بازار په رامنځته کېدو سره، ګڼ شمېر اقتصادي او د کارموندنې فرصتونه منځ ته راځي.

له بل اړخه، دوامداره برېښنا به د کوچنیو او منځنیو صنعتونو د پیاوړتیا لامل وګرځي او دا بهیر به د کورنیو تولیداتو، په ځانګړي ډول د ساختماني صنعت، کرنې او د کانونو د استخراج د ودې او ملاتړ سبب شي.

له ټولنیز اړخه، محرومو سیمو ته د برېښنا رسول د خلکو د ژوند کیفیت لوړوي. په دوامداره انرژۍ سره، ښوونځي د برقي وسایلو د کارولو وړتیا ترلاسه کوي، چې دا د تعلیمي خدمتونو د ښه والي لامل ګرځي. روغتیایي کلینیکونه هم اغېزناک فعالیت کولی شي او د درملو خوندي زېرمه ممکنه کېږي، چې دا د روغتیایي خدمتونو د لوړوالي سبب کېږي. سربېره پر دې، د ډیزلو او لرګیو د سونګ سرچینو کارول کمېږي، چې چاپېریال ساتنه تضمینوي. همدارنګه، د انرژۍ د زېربناوو پراختیا د کورنیو او بهرنیو مهاجرتونو کچه راکمه وي، ځکه په کلیو کې د اقتصادي فرصتونو رامنځته کېدل، پر لویو ښارونو فشار کموي.

د اسلامي امارت یو مهم لومړیتوب د تجدیدېدونکو انرژۍ پراختیا ده، په ځانګړي ډول د لمر او باد پروژې چې په کابل، هرات، لوګر، بلخ، ننګرهار او لغمان کې پر مخ ځي. موخه یې دا ده چې افغانستان د انرژۍ په برخه کې پر ځان بسیا شي او د راتلونکي لپاره یوه باثباته بنسټ کېښودل شي.

که څه هم د انرژۍ پرځان بسیا کېدو ته لا اوږده لاره پاتې ده، خو روانې هڅې د بدلون څرګندې نښې دي. د لوګر ځلېدونکي لمریز پلېټونه، د هرات په دښتو کې څرخي توربینونه او هغه بندونه چې بېرته فعالېږي، ټول یو پیغام ورکوي: تیارې نور پای ته رسېدونکې دي.

هره نوې پروژه یوازې د برېښنا د تولید لپاره نه ده؛ دا د کار او اقتصادي فرصتونو د رامنځته کولو، د محلي صنعتونو د بیا راژوندي کولو او د اقتصادي وابستګۍ د کمېدو په لور یو مهم ګام دی. حتی کوچني، خو پرلپسې او هدفمند ګامونه کولای شي ستر بدلونونه رامنځته کړي.

کېدای شي کلونه وخت ونیسي څو د افغانستان د برېښنا شبکې باثباته او پراخې شي، خو هر نصب شوی لمریز پلېټ او هر فعال شوی توربین دا پیغام ورکوي چې راتلونکی روښانه دی؛ راتلونکی چې په کې افغانستان نه یوازې د خپلو کورونو څراغونه، بلکې د هیلې او باور څراغونه هم پخپله روښانه کوي.#

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د تاتارستان جمهوریت د لومړي وزیر...

...د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په ارګ کې د تاتارستان جمهوریت د لومړي وزیر له مرستیال او صنعت او سوداګرۍ وزیر اولیګ ولادیمروویچ کورو بچینکو سره وکتل.

د دې لیدنې پرمهال دواړو لورو د اقتصادي همکاریو او ګډې سوداګرۍ پر زیاتوالي خبرې وکړې.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په لومړي سر کې له روسیې فدراسیون څخه مننه وکړه چې اسلامي امارت یې په رسمیت وپېژانده او په دې سره د دواړو هېوادونو ترمنځ ډیپلوماتیکې اړیکې نوي پړاو ته داخلې شوې. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، اسلامي امارت د روسیې فدراسیون له ټولو جمهوریتونو سره پراخې اقتصادي او سوداګریزې اړیکې غواړي او په دې اړه یې د کازان په ۱۶م نړیوال اقتصادي فورم کې ګټور مجلسونه درلودل.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، اسلامي امارت په افغانستان کې په مختلفو سکټورونو کې کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې زمینه برابره کړې او له خپل لوري د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکوي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په خبره، د تاتارستان جمهوریت کولی شي له دې فرصت څخه په استفادې په افغانستان کې د سړکونو، تونلونو، اوبو رسولو شبکو، بندونو او کورونو جوړولو، کیمیاوي صنعت او همداراز له پنجشیر سیند څخه کابل ته د اوبو انتقال پروژه کې پانګونه وکړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کابل او کازان ترمنځ د ګډې سوداګرۍ د زیاتوالي لپاره تاتارستان ته د افغاني صادراتو پر زیاتوالي او همداراز له دغه هېواد څخه د باکیفیته خوراکي توکو، درملو او تخنیکي وسایلو پر وارداتو او ددې ترڅنګ د دواړو لورو د اړوندو وزارتونو او ادارو پر ګډ کار کولو هم ټینګار وکړ.

ورپسې د تاتارستان د لومړي وزیر مرستیال اولیګ ولادیمرووېچ کورو بچینکو خبرې وکړې. نوموړي وویل، د روسیې فدراسیون له لوري د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنې سره د تاتارستان او افغانستان ترمنځ په مختلفو برخو کې د تعامل لپاره ډېر سهولتونه رامنځته شوي دي. هغه زیاته کړه، چمتو دي چې له پنجشیر سیند څخه کابل ته د اوبو د انتقال پروژه او همداراز نورو برخو کې پانګونې وکړي. د تاتارستان د لومړي وزیر مرستیال زیاته کړه، د دې سفر پرمهال د تاتارستان د صنعتي شرکتونو مسوولین ورسره راغلي او لېواله دي چې له افغانستان سره په مختلفو برخو کې همکاري پیل کړي.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال کابل ته د تاتارستاني پلاوي راتګ د کابل او کازان ترمنځ په مختلفو برخو کې د اړیکو پراخولو لپاره د نوي او ګټور باب پیل وباله.#

## د افغانستان بین المللي بانک (AIB) رئیس سره د ریاست الوزراء اداري...

...محترم محب په مزارشریف کې د زړه او سرطان د تخصصي روغتون او په کابل کې د یو روغتون د تاسیس او راستنو شویو کډوالو سره د سل زره ډالرو مرستې یادونه وکړه.

د ریاست الوزاراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي سوداګري او پانګونه د هیواد د ابادۍ او پرمختګ لپاره مهمه لاره وبلله او وې ویل چې اسلامي امارت په هره برخه کې د داخلي او بهرنیو پانګوالو د هر ډول پانګونې ملاتړ کوي. د ریاست الوزراء اداري مرستیال د یادو روغتونونو د تاسیس په اړه څرګنده کړه، روغتیا د هیوادوالو له حیاتي او اساسي اړتیاوو څخه یوه ده او اړتیا ده چې د اسلامي امارت ترڅنګ خصوصي سکتور هم په دې برخه کې ونډه واخلي. محترم مولوي عبدالسلام حنفي راستنو شویو کډوالو د تاجرانو او پانګوالو د مرستو قدرداني وکړه او له ګاونډیو هیوادونو څخه د بېساري کډوالو راستنېدنې ته په پاملرنې یې له هغوی وغوښتل چې تر خپله وسه دې له هیوادوالو سره مرسته وکړي.#

## دیدار رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء با پیشتازان کانکور...

...محترم داکتر ملا عبدالواسع رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء با پیشتازان کانکور سال ۱۴۰۴ مدارس دینی و مکاتب کشور، در ارګ دیدار کرد.

محترم داکتر ملا عبدالواسع ضمن خوش آمدید و تبریکی به آنان، گفت که استعداد و جوانی نعمت بزرگ الله تعالی است و از آن برای خدمت به دین مبارک اسلام و مردم و روشن ساختن نام وطن استفاده نمایید.

رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء، گفت که ایجاد زمینه کسب علم در بخش های دینی و عصری برای جوانان، اولویت مهم امارت اسلامی است و دعوت امروز شما نمایانگر این تعهد می‌باشد. اکنون الحمدلله نظام علماء در افغانستان حاکم است و برای علم اهمیت خاص قایل می باشد.

وی برای تمام اشتراک کنندگان کانکور و جوانان موفق توصیه نمود که شکر الله (ج) را بجا آورند، نیت خود را به مادیات نه، بلکه رضایت الله (ج) و خرسندی مخلوق آن قرار دهند و ان شاء الله در تمام زندگی کامیابی نصیب شان خواهد شد. سپس محترم شیخ محمود ذاکری رئیس امور سیاسی و مردمی ریاست عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء به جوانان مذکور توصیه کرد که از کبر اجتناب ورزند، جوانی، عزت و استعداد خود را حفاظت نمایند و از آنها در برای درخشش دین الله (ج) و نام وطن استفاده اعظمی کنند.

وی گفت که شما در سطح افغانستان جوانانی هستید که زمینه تحصیل برای تان مساعد شده است و اکنون چشم ملت به سوی شماست، آرزوها و امیدهای آنان را برآورده سازید. در اخیراین دیدار پیشتازان امتحان کانکور سال ۱۴۰۴، از تشویق رهبری امارت اسلامی و ایجاد زمینه های سالم رقابت به آنان و سایر جوانان، ابراز امتنان کردند و گفتند که تلاش های شان را در راستای ارزش دادن به علم و دانش، ادامه خواهند داد.#

## د ارشاد، حج او اوقافو وزارت: له حج پاتې څه باندې ۱۱۵ میلیونه افغانۍ حاجیانو...

...اوقافو او حج برخو کې غوره، شفاف او د باور وړ خدمتونه وړاندې کړي، ترڅو د الله ﷻ د رضا تر څنګ؛ د هېوادوالو ډاډ او قناعت هم ترلاسه شي.

محترم ثاقب زیاته کړه، چې په ۱۴۴۶ هـ ق کال کې د سعودي عربستان لخوا د راکړل شوې سهمیې مطابق، ۳۰ زره حاجیان د حج فریضې د اداء کولو لپاره حرمینو شریفینو ته ولېږدول شول، چې ټول یې پخیر او عافیت سره بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي دي.

د ښاغلي ثاقب په وینا، د دقیقو او کره معلوماتو له مخې، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د حج لګښت لپاره له هر حاجي څخه ۲۸۲۰۹۰ افغانۍ راټولې شوې وې، چې ټولیزه اندازه یې ۸۲۷۸۷۷۷۳۲۰ افغانۍ وه، له دې جملې څخه ۸۱۶۳۳۱۲۵۳۷.۵۹ افغانۍ لګول شوي او څه باندې ۱۱۵ میلیونه افغانۍ اضافه شوي دي، چې په دې حساب سره به هر حاجي ته ۳۹۳۶ افغانۍ بېرته ورکړل شي.

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د سرپرست د معلوماتو له مخې، حاجیان کولی شي چې د پاسپورټ او تذکرې له اصلي او رنګه کاپي سره، د خپلو پیسو د ترلاسه کولو لپاره د ارشاد، حج او اوقافو وزارت او یا د خپل ولایت د ارشاد، حج او اوقافو ریاست ته مراجعه وکړي.#

PANA ARG
Islamic Emirate of Afghanistan
Govt. Media and Information Center
www.gmic.gov.af
Issue #77



Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)

Contact Number:
+93 (0) 202100633

Email:
info@gmic.gov.af

Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foriegn Affairs, Kabul, Afghanistan

# Deputy PM and the Director of AIB Discuss Investment and Healthcare Initiatives



The Deputy Prime Minister for Administrative Affairs, Mawlawi Abdul Salam Hanafi, held a meeting with the President of Afghanistan International Bank (AIB) and national investor Alhaj Mohammad Ibrahim Moheb.

During the meeting, Mr. Moheb provided an overview of the current economic, commercial, and investment climate in Afghanistan, as well as an update on the operations and initiatives undertaken by Afghanistan International Bank.

Mr. Moheb highlighted the establishment of a specialized cardiac and oncology hospital in Mazar-i-Sharif, a hospital in Kabul, and the provision of financial assistance amounting to one hundred thousand US dollars to support returning refugees.

Mawlawi Abdul Salam Hanafi emphasized that trade and investment are critical drivers for the country's reconstruction and development. He affirmed the Islamic Emirate's commitment to supporting all forms of investment from both domestic and international investors across all sectors.

Furthermore, the Deputy PM underscored the importance of healthcare as a fundamental and vital need of the Afghan people. He stressed the necessity of active participation by the private sector alongside the Islamic Emirate in the development and operation of healthcare facilities.

Mawlawi Abdul Salam Hanafi also expressed appreciation for the support extended by traders and investors towards returning refugees. He called upon neighboring countries to recognize the significant return of refugees and to provide necessary assistance to the Afghan people within their capacity. #

# Enhancing Humanitarian Services and Migrant Rights: Meeting Between Deputy PM and IOM Leadership




Mawlawi Abdul Salam Hanafi, Deputy Prime Minister for Administrative Affairs, held a meeting with Mr. Mohammad Abdiker, Chief of Staff at the International Organization for Migration (IOM), and his accompanying delegation.

The meeting, convened to enhance the facilitation of humanitarian services and assistance for returning migrants, featured remarks by Mr. Abdiker who commended the Islamic Emirate of Afghanistan for its effective management of migrant affairs. He further lauded the dedicated committees operating under the High Commission for Migrant Affairs for their comprehensive service delivery and provision of humanitarian aid to migrants. Mr. Abdiker affirmed that the IOM remains committed to supporting the Islamic Emirate of Afghanistan in all efforts concerning migrant welfare.

Highlighting IOM's ongoing initiatives, Mr. Abdiker spoke of the organization's efforts to safeguard and uphold the rights of returning migrants in host countries. He emphasized IOM's collaboration with international partners to recognize migrants' skills and facilitate access to employment opportunities and additional support...ContP#4

# ATRA Facilitates Communication for Returning Migrants with Complimentary SIM Card Initiative



The Afghanistan Telecommunications Regulatory Authority (ATRA) has announced the distribution of complimentary telecommunications services to returning Afghan migrants at the Islam Qala border crossing.

According to ATRA's spokesperson, since the initiation of the forced repatriation of Afghan migrants from Iran, approximately 200,000 SIM cards have been distributed free of charge. These SIM cards are temporarily issued to returnees for a period of four months based on their migration identification cards, thereby facilitating their immediate communication needs.

Jalaluddin Shams, ATRA's spokesperson, affirmed that the SIM cards are provided at no cost and emphasized that with the formalization of the SIM card distribution process nationwide, unauthorized access to SIM cards is strictly prohibited. Recognizing that many returnees from neighboring countries lack official national identification, ATRA has implemented this provisional measure enabling migrants to obtain SIM cards using their migration documentation.

Several returnees have expressed their appreciation for this initiative, noting that receiving SIM cards at the Islam Qala border has effectively addressed their urgent communication requirements. They have also urged the government to enhance services aimed at easing their reintegration process.

These measures are being implemented amidst the continuing forced repatriation of Afghan migrants from neighboring countries, notably Iran and Pakistan. #

# Strengthening Afghanistan's Regional Connectivity via Strategic Railway Development

...ContP#4

# Enhancing Humanitarian Services and Migrant Rights: Meeting Between...

...In response, Mawlawi Abdul Salam Hanafi extended a warm welcome to Mr. Abdiker and his accompanying delegation and expressed sincere appreciation for IOM's humanitarian assistance and unwavering collaboration in addressing the challenges faced by migrants.

He acknowledged the recent increase in the forced repatriation of Afghan migrants by neighboring countries but assured that the situation remains under control. He emphasized the Islamic Emirate's ongoing commitment to effectively addressing migrant concerns, noting the commendable cooperation received from both the public and private sectors.

Mawlawi Abdul Salam Hanafi also highlighted the enhanced deployment of human resources, infrastructure including tents, vehicles, hangars, and other necessary logistical support provided by relevant authorities. He underscored the Islamic Emirate's resolve to utilize all available resources to deliver essential services to returning migrants.

Finally, the Deputy PM stressed the critical importance of creating sustainable employment opportunities for migrants and urged host countries and international stakeholders to prioritize the protection of migrants' rights. #

# Afghanistan's Electricity Sector Sees Unprecedented Foreign and Domestic Investment

In less than a year, Afghanistan has attracted an unprecedented 69 billion Afghanis in investment for the electricity sector, with 70 percent of the funding sourced from foreign investors.

The development marks a significant vote of confidence in the nation's energy market and signals the start of a new chapter in its pursuit of energy self-sufficiency.

Abdul Bari Omar, Chief Executive Officer of Da Afghanistan Breshna Sherkat, stated that during the past one year, the company has signed, or is in the process of finalizing, agreements and projects totaling 1,070 megawatts of domestic electricity capacity. Of this investment, 70 percent has been secured from international sources.

According to Mr. Omar, the implementation of these projects, coupled with the expansion of industrial parks, will enable Afghanistan to meet its current electricity demand of 6,000 to 7,000 megawatts. He emphasized that this progress is being achieved without reliance on the World Bank or other international institutions, relying instead on a combination of domestic and foreign capital.

The CEO also disclosed that powerful individuals and former political officials in Kabul collectively owe 450 million Afghanis in unpaid electricity bills. He added that, under current policy, all debtors — from ministers to ordinary citizens — are being dealt with strictly in accordance with the law. #



# Strengthening Afghanistan's Regional Connectivity via Strategic Railway...





...The Ministry of Public Works has announced that the provision of expanded facilities for both domestic and foreign investors has stimulated interest among regional countries—including Uzbekistan, Turkmenistan, Kazakhstan, Russia, the United Arab Emirates, China, and Iran—to invest in Afghanistan's infrastructure projects.

Mohammad Ashraf Haqshenas, spokesperson for the Ministry, noted that neighboring countries, particularly Uzbekistan, Turkmenistan, Kazakhstan, and Iran, along with several others, have expressed strong interest in investing in Afghanistan's infrastructure development, with a specific focus on railway projects. Several MoUs and agreements have been formalized with these nations.

Economic analysts assert that the development of the railway network will not only integrate Afghanistan into the markets of its neighboring countries but also significantly enhance the country's trade relations. This advancement is expected to serve as a catalyst for sustainable economic growth and development.

At present, 261 kilometers of railway lines are operational within Afghanistan. Meanwhile, two major regional initiatives—the "Afghan-Trans" and "Kandahar-Spin Boldak" projects—are poised to commence imminently. The implementation of these projects is anticipated to reinforce Afghanistan's strategic position within the region, establishing it as a critical nexus linking Central Asia and South Asia. #

# Advancing Standardized Mining Practices for Economic Growth and Employment



The Ministry of Mines and Petroleum has instituted targeted programs to ensure the standardized management of Afghanistan's mineral resources and to combat illegal mining activities.

According to the Ministry's spokesperson, Mr. Homayoun Afghan, these initiatives are designed to create employment opportunities, attract investment, promote industrial growth, and advance the country's economic self-reliance.

Mr. Afghan emphasized that alongside stringent measures to prevent mineral smuggling, efforts are underway to prioritize the domestic processing of raw materials instead of exporting them in their unprocessed form.

He stated, "Our commitment is to manage mineral resources effectively to foster job creation, mobilize capital investment, and stimulate sustainable economic growth."

The spokesperson further explained that the mining tender process is conducted with full transparency and simplicity, with contracts awarded exclusively to firms that demonstrate technical competence, financial robustness, and operational commitment.

Ministry officials also noted that while some major mineral deposits remain in the exploration phase, those currently in production have already delivered tangible benefits to local communities and generated significant revenue. #

# Construction Resumes on Nangarhar's 1,000-Bed Hospital, Boosting Healthcare Access in Eastern Afghanistan

Following several years of delay, construction activities have recommenced on the Eastern 1,000-Bed Hospital project in Nangarhar Province. This significant healthcare infrastructure initiative, valued at 546 million Afghanis and overseen by the National Development Corporation, is anticipated to serve as a critical medical hub for the eastern region of Afghanistan.

Local authorities in Nangarhar have highlighted that upon completion, the facility will enable hundreds of patients—who previously sought treatment in neighboring countries—to access advanced healthcare services domestically.

The resumption of this project has been positively received by the local population, who stress the importance of adhering to project timelines to expedite the hospital's operational readiness and service delivery.

Furthermore, the Islamic Emirate has recently reactivated several other stalled healthcare infrastructure projects across Parwan, Paktia, and Kunar provinces, underscoring a nationwide commitment to bolstering Afghanistan's health system. #

# عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د کندهار ولایت په مقام کې علماء کرامو او خطیبانو ته په جوړه شوې غونډه...

...وروسته عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د مجلس ګډونوالو ته مهمې توصیې، سپارښتنې او وینا وکړه.

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی، ټولو علماء کرامو ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه، دا یو بابرکته مجلس دی او په ښه فکر او ښه نیت د عامو مسلمانانو د ګټې او مصلحت لپاره جوړ شوی او د الله تعالی ډیر قدرمن بندګان په ډیر ښه نیت باندې را جمع شوي دي.

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی علماوو ته په خطاب کې وویل، د ځمکې پر مخ د الله جل جلاله تر ټولو قدرمن بندګان همدا تاسو علماء کرام یاست، دا چې د علماوو مسئولیت خورا دروند دی، په کار دی چې علماء کرام خپل مسئولیت په ښه توګه اداء کړي.

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی وویل دوه صفونه دي، چې یو د علماوو صف او بل د حاکمانو صف دی، عام خلګ په همدې دوو صفونو پسې روان دي، دغه دوه صفونه چې هر لاره انتخابوي، خلک ورپسې روان دی، که الله جل جلاله دا دوه صفونه اصلاح کړل، نو ټول خلک ورسره اصلاح کیږي او که خدای مکړه دا دوه صفونه په فساد اخته شول، نو خلک هم په فساد کې ورسره اخته کیږي، د دې ټولنې ټول ځوانان ماته داسې دي لکه خپل اولادونه، زه یې د اصلاح پوره پوره کوښښ کوم او ان شاء الله په یاده برخه کې خپل مسئولیت اداء کوم.

په دې مجلس کې علماء کرامو ته زما توصیه داده چې خلکو ته د ترافیکي پیښو په هکله چې په دې وخت کې ډیرې پیښیږي او د خلکو ژوند اخلي، پوهاوی ورکړي، تر څو خلک پخپله د ځانونو د هلاکت سبب نشي او نه په خپله بې احتیاطۍ سره د نورو خلکو ژوند واخلي.

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی زیاته کړه، په تېرو نظامونو کې غیرشرعي امورو وده کوله او خلک به د دین سره نا اشنا کېدل، هغوی فساد او فحاشي رواج کړې وه، د خلکو فکرونه او ذهنونه یې ورخراب کړي وو، خلک یې دې ته هڅول، چې د دین او مذهب مقابله وکړي او د همدې لپاره یې ډېره پانګونه هم وکړه، د خلکو ذهنونه او فکرونه دومره خراب شوي وو، چې اوس شریعت ورته نابلده ښکاري.

عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله تعالی زیاته کړه، د اسلامي نظام لپاره د خلکو د لمنځونو اقامه او اصلاح مهم کار دی، حضرت عمر رضي الله عنه به خپلو والیانو ته ویل ستاسو په کارونو کې زما لپاره ترټولو مهم کار ستاسو لمونځ دی، که لمونځونه مو اصلاح شي نور کارونه به مو اصلاح وي، بناً زه هم ټولو د جمعې هغو لمونځونو ته اجازه ورکوم چې تر اوسه له اجازې پرته ادا کیږي او د جمعې د لمانځه شرایط په کې برابر دي، ځکه د جمعې د لمانځه له شرایطو څخه یوشرط د امام اذن دی.

جناب عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله تعالی وویل، زموږ ټول قوانین، پرېکړې او حکمونه د شریعت مطابق دي، چې له شریعت سره تطبیق یې د علماوو او پوهانو لخوا په پوره تحقیق او دقت په مختلفو پړاوونو کې څېړل کیږي، د شریعت په تطبیق او خلکو ته د علم او پوهې په ورکړه کې، د ټولنې د اصلاح لپاره په ګډه باید خدمت وکړو او د ټولنې د اصلاح لپاره باید سره یو شو، مسئولین هم په تاسو اصلاح کزړي، تاسو یې حق ته رابولئ، د حق خبره ورته کوئ او ورته وایاست به چې پر دغه لار لاړ شئ، تاسو ته معلومه ده چې امربالمعروف او نهی عن المنکر د مسلمانانو او اسلامي نظام مهمه او مقدسه وظیفه ده، کومه جامعه کې چې امربالمعروف او نهی عن المنکر نه وي هغه جامعه له فساد او د الله تعالی له عذاب سره مخ وي، د علماء کرامو دا وظیفه ده چې خلک د پیغمبر علیه الصلاة والسلام سنتو ته را وبولي چې سیرت او صورت په شرعي طریقه برابر کړي، لکه ږیره، لنګوټه او داسې نور او د خپل ژوند په چارو کې د شریعت د مخالفت څخه ځان او کورنۍ وساتي.

په پای کې ټولو علماء کرامو یوځل بیا له عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی سره خپل بیعت تجدید کړ او ژمنه یې وکړه چې د خپل زعامت او د خپل شرعي نظام کلک ملاتړي وو او وي به.

وروسته مجلس نظام او خلکو ته د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی لخوا د دعاېي په لوستلو سره پایته ورسېد.#

والسلام.

۱۳/صفر المظفر/۱۴۴۷ هـ ق

# رونق سرمایه‌گذاری منطقه‌ای با گسترش شبکه خط آهن...





...محمد اشرف حق‌شناس، سخنگوی این وزارت، می‌گوید: کشورهای همسایه، به‌ویژه اوزبیکستان، ترکمنستان، قزاقستان و ایران، همراه با برخی کشورهای دیگر، علاقه‌مندی گسترده‌ای به سرمایه‌گذاری در پروژه‌های زیربنایی افغانستان، به‌خصوص در بخش خطوط آهن، نشان داده‌اند. با شماری از این کشورها نیز صورت‌جلسه‌ها و تفاهم‌نامه‌هایی به امضا رسیده است.

به باور کارشناسان اقتصادی، توسعه خطوط آهن نه‌تنها افغانستان را به بازارهای کشورهای همسایه متصل می‌کند، بلکه می‌تواند روابط تجاری کشور را به شکل چشمگیری گسترش دهد و زمینه‌ساز رشد و توسعه پایدار اقتصادی شود.

در حال حاضر، ۲۶۱ کیلومتر راه‌آهن در داخل کشور فعال است. با این حال، دو پروژه بزرگ منطقه‌ای «افغان–ترانس» و «قندهار–سپین‌بولدک» در آستانه آغاز قرار دارند. آغاز این پروژه‌ها می‌تواند جایگاه افغانستان را در منطقه مستحکم ساخته و آن را به محور اتصال کشورهای آسیای مرکزی و جنوب آسیا بدل کند.#

# په ننګرهار کې د زر بستریز روغتون د کارونو بیا پیل - د ختیځ د...

...په ننګرهار کې د ختیځ زر بستریز روغتون د جوړېدو چارې له څو کلن ځنډ وروسته بېرته پیل شوې. دا ستر روغتیایي پروژه چې د ۵۴۶ میلیونه افغانیو په لګښت د ملي پراختیا شرکت له لوري عملي کېږي، تمه ده د ختیځو ولایتونو د خلکو د درملنې یوه مهمه مرکز شي.

د ننګرهار سیمه‌ییز مسئولین وایي، د دې روغتیایي کمپلیکس په جوړېدو سره به سلګونه ناروغان چې مخکې به یې د درملنې لپاره ګاونډیو هېوادونو ته سفر کاوه، له همدې ځایه لوړ کیفیت روغتیایي خدمتونه ترلاسه کړي.

خلک د دې پروژې د بیا پیل کېدو هرکلی کوي، خو په عین حال کې ټینګار کوي چې چارې دې په ټاکلي وخت بشپړې شي، څو زر تر زره د دې روغتون له اسانتیاوو ګټه واخلي.

یادونه ده چې له دې وړاندې اسلامي امارت په پروان، پکتیا او کونړ کې د ځینو نیمګړو روغتیایي پروژو چارې هم له سره پیل کړې وې، چې دا د هېواد په کچه د روغتیایي زیربناوو د پیاوړتیا لپاره یو بل مثبت ګام ګڼل کېږي.#



# دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با رئیس دفتر سازمان بین المللی...

...محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزرء با محترم محمد عبدیکر رئیس دفتر سازمان بین المللی مهاجرت (IOM) و هیأت همراه اش، دیدار کرد.

این دیدار که به هدف تسهیل خدمات و کمک‌های انسانی برای مهاجرین عودت‌کننده انجام شد، در آن محترم محمد عبدیکر رئیس دفتر سازمان بین المللی مهاجرت از کارکردهای امارت اسلامی افغانستان در قبال رسیدگی به امور مهاجرین به نیکی یاد کرد.

وی همچنان از فعالیت‌های کمیته‌های مؤظف در چوکات کمیسیون عالی رسیدگی به امور مهاجرین در راستای ارائهٔ خدمات در بخش‌های مختلف و عرضهٔ کمک‌های انسانی به آنان ستایش نمود و گفت که سازمان IOM در کنار امارت اسلامی افغانستان، آمادهٔ هر گونه کمک و همکاری به مهاجرین می‌باشد.

محترم محمد عبدیکر به تلاش‌های این سازمان جهت تأمین و حفظ حقوق مهاجرین عودت‌کننده توسط کشورهای میزبان اشاره کرد و گفت که سازمان بین المللی مهاجرت (IOM) تلاش دارد تا با همکاری سایر نهادهای بین المللی با تشخیص مهارت‌های مهاجرین زمینهٔ اشتغال و کمک‌های بیشتری را برای آنان فراهم سازد.

در مقابل محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء ضمن خوش آمدید به رئیس دفتر سازمان بین المللی مهاجرت (IOM) و هیأت همراه اش، از کمک‌های انسان‌دوستانه و همکاری بی‌دریغ تیم‌های مؤظف این سازمان در زمینه رسیدگی به مشکلات مهاجرین، قدردانی نمود.

وی افزود: با آنکه اخراج مهاجرین افغان از سوی کشورهای همسایه افزایش یافته است، ولی وضعیت کاملاً تحت کنترول بوده و امارت اسلامی افغانستان با تلاش‌های پیگیر به مشکلات مهاجرین رسیدگی می‌نماید و همکاری مردم و سکتور خصوصی در این مورد نیز قابل تمجید می‌باشد.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی با یادآوری از افزایش تعداد نیروی بشری، خیمه‌ها، وسایط نقلیه، هنگرها و سایر وسایل مورد نیاز از سوی ادارات مربوطه، تصریح کرد که امارت اسلامی افغانستان هرچه در توان دارد جهت ارائه خدمات به مهاجرین دریغ نخواهد کرد.

معاون اداری ریاست الوزراء همچنان به ایجاد فرصت‌های شغلی برای مهاجرین تأکید نمود و از کشورهای میزبان و سایر نهادهای بین المللی مسئول خواست که جهت تأمین حقوق مهاجرین توجه نمایند.#

# کانونه، کار او پرمختګ: د معیاري استخراج نوې څپه



د کانونو او پټرولیم وزارت وایي چې د هېواد د کانونو د معیاري مدیریت او د ناقانونه کیندنې د مخنیوي لپاره ځانګړې پروګرامونه یې پلې کړي دي.

د وزارت ویاند، همایون افغان، وایي چې دغه پروګرامونه د کاري فرصتونو رامنځته کولو، پانګې جلبولو، د صنعت ودې او د هېواد د اقتصادي ځان بسیاینې په موخه عملي شوي دي.

همایون افغان زیاتوي چې د کانونو د قاچاق د مخنیوي ترڅنګ هڅه کېږي چې خام مواد د بهر صادرولو پر ځای په هېواد کې دننه پروسس شي.

د کانونو او پټرولیم وزارت ویاند څرګنده کړه: موږ هڅه کوو چې کانونه په سمه توګه مدیریت شي، څو کاري فرصتونه رامنځته، پانګې جلب او اقتصاد وده وکړي.

د نوموړي په وینا، د کانونو د داوطلبۍ بهیر روڼ او اسانه دی او یوازې هغو شرکتونو سره تړونونه کیږي چې تخنیکي، مالي وړتیاوې او عملي ژمنتیا ولري.

د کانونو وزارت چارواکي زیاتوي چې ځینې ستر کانونه لا هم د اکتشاف په پړاو کې دي، خو هغه کانونه چې ګټه اخیستنه یې پیل شوې، خلکو ته یې ګټه رسېدلې او عاید یې هم رامنځته کړی دی.#

# در کمتر از یک سال ۶۹ میلیارد افغانی در بخش برق سرمایه‌گذاری شده است

در کمتر از یک سال، افغانستان شاهد سرمایه‌گذاری بی‌سابقه‌ای در حوزه انرژی بوده است؛ ۶۹ میلیارد افغانی تنها در بخش تولید برق، که ۷۰ درصد آن از سرمایه‌گذاران خارجی جذب شده است. این موفقیت، نشانه‌ای روشن از افزایش اعتماد جهانی به بازار انرژی کشور و آغاز فصل تازه‌ای در مسیر خودکفایی است.

محترم عبدالباری عمر، رئیس د افغانستان برشنا شرکت، می‌گوید: در ۱۱ ماه گذشته، قراردادها و پروژه‌هایی به ظرفیت مجموعی یک‌هزار و ۷۰ میگاوات برق داخلی را امضا یا آماده امضا کرده ایم که ۷۰ درصد سرمایه آن از خارج کشور جذب شده است. به گفته موصوف، با اجرای این پروژه‌ها و توسعه پارک‌های صنعتی، افغانستان می‌تواند نیاز فعلی ۶ تا ۷ هزار میگاوات برق خود را تأمین کند. وی تأکید کرد که این مسیر، بدون وابستگی به بانک جهانی یا دیگر نهادهای بین‌المللی و با تکیه بر سرمایه‌گذاری داخلی و خارجی، در حال پیشروی است.

رئیس د افغانستان برشنا شرکت از بدهی ۴۵۰ میلیون افغانی زورمندان و مقام‌های سیاسی پیشین در کابل خبر داده می افزاید که اکنون با همه، از وزیر گرفته تا فرد عادی، بر اساس قانون برخورد می‌شود.#



امارت اسلامی افغانستان
مقام ریاست الوزراء
ریاست عمومی دفتر
معاونیت ارتباطات عامه و استراتیژیک
مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

ارگ نامه

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

# دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با معاون اجرایی و مدیر عملیاتی یونیسف

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با آقای تد چایبان معاون اجرایی و مدیر عملیاتی یونیسف و هیأت همراه وی دیدار نمود.

در این دیدار آقای تد چایبان ضمن ابراز خرسندی از کارهای مثبت انجام شده توسط امارت اسلامی، بر گسترش همکاری‌ها میان یونیسف و امارت اسلامی افغانستان تأکید کرد.

وی با اشاره به پلان استراتیژی انکشافی یونیسف در افغانستان، تصریح کرد که این سازمان تلاش دارد تا از اقتصاد محلی و تولیدات داخلی در این کشور حمایت نماید و همچنین از تولیدات موادی که باعث سوء تغذی در نزد اطفال می‌گردد، جلوگیری به عمل آید.

معاون اجرایی یونیسف با اظهار اطمینان از ادامهٔ کمک‌های این سازمان برای معارف و مهاجرین عودت‌کننده، گفت که انکشاف و توسعهٔ برنامه‌های اقتصادی در اولویت کاری ما قرار دارد و سعی می‌کنیم زمینه‌های اشتغال را به بازگشت‌کنندگان فراهم سازیم.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء از دیدار با آقای تد چایبان معاون اجرایی و مدیر عملیاتی یونیسف و هیأت همراه اش، استقبال کرد و از همکاری‌های یونیسف برای مردم افغانستان بخصوص مهاجرین اخراج شده از کشورهای همسایه، قدردانی به عمل آورد.

وی با یادآوری از افزایش تعداد عودت‌کنندگان طی ماه‌های اخیر و اقداماتی که از سوی امارت اسلامی افغانستان جهت رسیدگی به امور آنها انجام یافته، از یونیسف و دیگر نهادهای بین المللی مسئول خواست که در بخش اسکان دایمی مهاجرین و تأمین حقوق آنان توسط کشورهای میزبان، توجه خاص نمایند.#

# په کابل ښار کې پر دېوالونو د برېښنا سپمولو په اړه د پیغامونو لیکلو طرحه د تایید وړ وبلل شوه

د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته په کابل ښار کې پر دېوالونو د برېښنا سپمولو په اړه د پیغامونو لیکلو طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه. له هراړخیز بحث وروسته د تخنیکي کمېټې د سپارښتنو په پام کې نیولو سره یاده طرحه د تایید وړ وبلل شوه او د نهايي تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شوه. د دې طرحې له مخې به پر دېوالونو او د رسنیو له لارې هغه پیغامونه لیکل او خپرېږي، چې خلکو ته د برېښنا سپمولو په برخه کې عامه پوهاوی ورکوي. د تخنیکي کمېټې دې غونډې ته د کارګرانو ملي اتحادیې د اساسنامې د تعدیل، د یادې اتحادیې جایدادونو د برخلیک معلوملو او همداراز د کاري جوازونو د ورکړې او کابل ته د پنجشیر سیند د اوبو انتقال پروژې په اړه ټاکل شوو کمېټو خپل راپورونه وړاندې کړل. دغه راپورونه د تخنیکي کمېټې له لوري تایید او د نهايي تصمیم نیونې په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شول.#

# د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس د پکتیکا ولایت د علماؤ او قومي مشرانو غوښتنې واورېدې

# دیدار رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء با شماری علماء و متنفذین اهل تشیع



د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس محترم ډاکټر ملا عبدالواسع د پکتیکا ولایت له یو شمېر علماؤ او قومي مشرانو سره په ارګ کې وکتل.

د دې کتنې پر مهال د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي ریاست د سیاسي او ولسي چارو رئیس محترم مفتي محمود ذاکري هم حضور درلود، په پیل کې محترم ضیاء الحق وزیر زوی او محترم قاري عبدالکبیر رشید د نورو په استازولۍ خبرې وکړې او د اسلامي امارت د ملاتړ ترڅنګ یې په تېرو څلورو کلونو کې د هیواد د پرمختګ او هوساینې په برخه کې ترسره شوې چارې وستایلې.

راغلو مشرانو د برېښنا د نشتوالي، د پوهنې، روغتیا، د مواصلاتي لارو جوړولو او بیارغاونې او بنسټیزو پروژو د پلي کولو ترڅنګ په بېلابېلو برخو کې د پکتیکا د خلکو ستونزې، غوښتنې او وړاندیزونه بیان او دې برخې ته یې د اسلامي امارت د ځانګړې پاملرنې غوښتنه وکړه.

دوی دغه راز د ولسونو غوښتنې او وړاندیزونه په لیکلي بڼه د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس سره شریک کړل.

د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس محترم ډاکټر ملا عبدالواسع د پکتیکا راغلو علماؤ او قومي مشرانو ته د ښه راغلاست پر مهال وویل، ارګ د ټولو افغانانو ګډ کور او دروازه یې د ټولو پرمخ پرانیستې ده.

محترم ډاکټر ملا عبدالواسع څرګنده کړه، د اسلامي امارت مسولین له توپیر پرته د ټولو ولسونو ستونزې، واندیزونه او مشورې اوري او د خپل توان په محدوده کې یې د حل لپاره نه ستړې کېدونکې کوښښونه کوي.

د دې کتنې په پای کې د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس راغلو علمای کرامو او قومي مشرانو ته ډاډ ورکړ چې د ستونزو د حل په موخه به یې وړاندیزونه له اړوندو ادارو او مسؤلینو سره شریک کړي.#

محترم داکتر ملا عبدالواسع رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء با شماری علماء و متنفذین اهل تشیع در ارگ دیدار کرد.

در این دیدار ابتدا محترم سید صوفی گردیزی، محترم سید حسن شریفی بلخابی و محترم محمد اسحاق صفدری به نمایندگی از دیگران صحبت نمودند و از روابط و هماهنگی نزدیک میان امارت اسلامی و مردم تقدیر بعمل آوردند.

آنان گفتند که اهل تشیع از نظام اسلامی حمایت و اطاعت کامل می نمایند، با آن روابط نیک دارند و از زندگی با تفاهم و تعامل تحت سایه آن خرسند می باشند.

علماء و متنفذین اهل تشیع که به نمایندگی از ولایت های مختلف آمده بودند، پیشنهادات و مشکلات مشخص شان را در زمینه های آب، رسیدگی به مشکل سرپناه هموطنان عودت کننده در ولایت های هرات، کابل و شماری از ولایات دیگر، اعمار و بازسازی مساجد و تقویت هرچه بیشتر روابط میان امارت اسلامی و مردم، به گونهٔ کتبی شریک ساختند.

سپس محترم داکتر ملا عبدالواسع رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان، ضمن خوش آمدید به آنان، گفت که ارگ خانهٔ مشترک تمام افغان ها است و رهبری امارت اسلامی، رسیدگی به مشکلات و پیشنهادات همه را مسئولیت خویش میداند.

محترم داکتر ملا عبدالواسع از نقش علماء و متنفذین اهل تشیع در خصوص تقویت روابط میان نظام اسلامی و مردم، قدردانی نمود.

رئیس عمومی دفتر مقام ریاست الوزراء در مورد هر پیشنهاد علماء و متنفذین اهل تشیع صحبت کرد و اطمینان داد که پیشنهاد شان را با مراجع مربوطه شریک خواهد نمود.#

***

# جلسهٔ کمیسیون اداری تدویر یافت

جلسهٔ کمیسیون اداری تحت ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء و با اشتراک اعضای کمیسیون یاد شده، برگزار شد..

در این جلسه ابتدا فعالیت‌ها و کارکردهای کمیته‌های مؤظف پیرامون وظایف سپرده شده مورد ارزیابی قرار گرفت.

سپس روی موضوعات مربوط وزارت صحت عامه و ریاست رادیو تلویزیون ملی افغانستان و در رابطه به پیشنهاد ولایت فراه بحث و بررسی همه جانبه انجام شد و در زمینه‌های فوق الذکر تصامیم لازم اتخاذ گردید.

در اخیر جلسه، جهت بررسی بیشتر سایر موضوعات شامل آجندا به کمیته‌های جداگانه وظیفه سپرده شد.#

# په ننګرهار او تخار ولایتونو کې د سوداګریزو مارکېټونو جوړولو طرحې د تایید وړ وبلل شوې

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته د ننګرهار ولایت په جلال اباد ښار کې د ښاروالۍ پر ځمکه تر ځمکې لاندې مارکېټ جوړولو طرحه د تاییدۍ لپاره وړاندې شوه. له هراړخیز بحث وروسته یاده طرحه د تایید وړ وبلل شوه. د دې طرحې له مخې به خصوصي سکټور پر دغه تر ځمکې لاندې مارکېټ جوړولو ۹۵ میلیون افغانۍ پانګونه کوي، چې ۱۸۳ دوکانونه به ولري.

دې غونډې ته همداراز د تخار ولایت په خواجه غار ولسوالۍ کې د ښاروالۍ په ځمکه د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه هم د تاییدۍ لپاره وړاندې شوه. له هراړخیز بحث وروسته دغه طرحه تایید شوه. د دې طرحې له مخې به خصوصي سکټور د یاد سوداګریز مارکېټ جوړولو لپاره ۴۸ میلیون افغانۍ پانګونه کوي، چې ۱۰۴ دوکانونه به ولري.

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې دې غونډې ته همداراز د تخار ولایت په تالقان ښار کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه هم د بحث لپاره وړاندې شوه. د یادې طرحې د هراړخیزې ارزونې لپاره ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو یې مالي او تخنیکي اړخونه و ارزوي او خپل راپور په ټاکلي وخت د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.#

# توزیع ۲۰۰ هزار سیم‌کارت رایگان به عودت‌کنندگان افغان در مرز...



...اداره تنظیم خدمات مخابراتی افغانستان (اترا) از ارائه خدمات مخابراتی رایگان به عودت‌کنندگان افغان در مرز اسلام‌قلعه خبر داد.

سخنگوی این اداره اعلام کرد که از آغاز روند بازگشت اجباری مهاجران افغان از ایران تاکنون، نزدیک به ۲۰۰ هزار سیم‌کارت مخابراتی به‌صورت رایگان توزیع شده است. این سیم‌کارت‌ها بر اساس کارت مهاجرت و به مدت چهار ماه به‌طور موقت در اختیار عودت‌کنندگان قرار گرفته تا سهولت‌های ارتباطی برای آنان فراهم شود.

جلال‌الدین شمس، سخنگوی اداره تنظیم خدمات مخابراتی، می‌گوید: این سیم‌کارت‌ها رایگان است و اکنون که روند توزیع سیم‌کارت‌ها در کشور قانونی شده، هیچ‌کس نمی‌تواند به‌صورت غیرقانونی سیم‌کارت دریافت کند. کسانی که از کشورهای همسایه به وطن بازمی‌گردند و حتی تذکره کاغذی ندارند، با در نظر گرفتن این مشکل، اداره اترا این روند موقت را آغاز کرده است تا بتوانند با اسناد مهاجرت سیم‌کارت دریافت کنند.

شماری از عودت‌کنندگان با قدردانی از این اقدام می‌گویند که دریافت سیم‌کارت در مرز اسلام‌قلعه بخش مهمی از نیازهای فوری ارتباطی آنان را برطرف کرده و از دولت خواسته‌اند خدمات بیشتری برای تسهیل بازگشت آنان فراهم شود.

این تلاش‌ها در حالی ادامه دارد که روند اخراج اجباری مهاجران افغان از کشورهای همسایه، به ویژه ایران و پاکستان، همچنان جریان دارد.#

